## دپیدایښت ورځي

ځلور اونۍ مخکې له کرسمس نه یو انتظاروخت دي . دپیدایښت ورځي په اصل کې د عیسویانو سپېڅلې ورځې دي چې دحضرت عیسی علیه السلام دپیدایښت لمانځلو لپاره چمتو کېږي. د دحضرت عیسی علیه السلام دپیدایښت ورځي کلمه دا معنی ورکوی چې په حقیقت کې "رب راځي." اوس، زمونږ په عصر کې ، ډیری خلک دحضرت عیسی علیه السلام دپیدایښت ورځي لمانځي که عیسوی وي یا نه.

د حضرت عیسی علیه السلام دپیدایښت په ورځو خلک کرسمس ته په بیلابیلو لارو چمتو کېږي. ډیری خپل کورونه سینګاروي. په ښوونځیو او وړکتونو کې ډیری فعالیتونه ترسره کېږي. دپیدایښت ورځي رنګ ارغواني دی.

## د کرسمس پخلي

ډیری خلک دپیدایښت په ورځو کې د کرسمس کیکونه پخوی. په دودیز ډول ، خلک اوه رقم کیکونه پخوی ، خو خلک کولای شی چی دا کیکونه په دوکانونو کې هم واخلي. دمرچکو کیک یو رقم د اوو کیکونو څخه دی.ځیني د مرچکو کیک کورونه هم جوړوي.
په برګن کې ، دوی هرکال دمرچکو د نړۍ ترټولو لوی ښار جوړوي. ښوونځي ، وړکتونونه ، سوداګری اوملکی اشخاص د مرچکي کیک یو مسول شخص ته ورکوي چه د مرچکو کیک یو مکمل ښار جوړکړي .



*Pepperkakebyen i Bergen. Bildet er tatt av straightfromthecask på Flickr*

## دکرسمس ورکشاپ

ډیری دپیدایښت په ورځوکې د کرسمس ورکشاپونه تنظیموي. بیا دوی ملګري او کورنۍدعوت کوي. دوی د کرسمس په ورکشاپ کې د نورو شیانو په مینځ کې د کریسمس دکوراسیون ، د کرسمس سوغات او د کرسمس کارتونه جوړوي. ځینې د کرسمس سندرې وایي.



*Småbarn har laget julekort på juleverksted i Oslo museum. Foto: Oskar Seljeskog, Oslo museum*

## د کرسمس پای

ښوونځي ، وړکتونونه ، د سپورت ټیمونه او اتحادیې دپیدایښت په ورځوکې محفلونه جوړوی.دغه محفلونو ته د کرسمس پای ویل کیږي.

## د کرسمس کنسرتونه اوفعالیتونه

ډیری سندرغاړي او ډیر هنرمندان د کرسمس کنسرتونه او فعالیتونه تنظیموي. دا پیښې ډېرې وختونه په کلیساګانو کې وي.

## د کریسمس مارکیټ

د کرسمس بازارونه د ادپیدایښت په وخت کې هم مشهور دي. د کرسمس بازارونه، د پخوانی کرسمس فضا سرګندوی. دلته تاسو کولی شئ دکرسمس لاسي سوغات او د کور خواړه وپیرئ.

## جنتري

ډېرى ماشومان د پيداېښت جنترى لري. د پيداېښت جنترى24 سوغات لري. کوچنيان د ډسمبر له 1 څخه د کرسمس تر ختمه پورې هره ورځ يو سوغات خلاصوي.

ډېرى د ښوونځي ټولګي هم د پيداېښت جنترى لري.يوه طريقه دا ده چې هر زده کوونکي هغه سوغات چې دلته پوښل شوې دى خلاصوي. ښوونکى سوغات د زده کوونکو نومونو سره نښه کوي . په هرسوغات د زدکوونکو نوم ليکل شوې دى په ډسمبر کې هره ورځ ، هرزدده کوونکى يو يو سوغات خلاصوي. هغه څوک چې په هغه نيټه نوم يې ليکل شوې ده سوغات به ترلاسه کوي. ځينې لويان هم د پيداېښت جنترى لري ، او د پيداېښت جنترى د هغوى لپاره هم په انترنت کې موندل کېږي.دپيداېښت ورځې چنترى په 1920 م کال شاوخوا کې له المان څخه شمال ته راغلى.



*Adventskalender. Bildet er tatt av Ulrike Mai fra Pixabay*

## د پيداېښت شمع

دپيداېښت ورځې ديوټ يو رقم شې دى چې د څلور يا ډېرې شمعې ځاى لري.دا د هر يکشنبه لپاره يو شمع ده. لومړى يکشنبه خلک يو شمع لګوى، دويم يکشنبه خلک دوه شمعې لګوى ، دريم يکشنبه خلک درې شمعې لګوي او په څلورم يکشنبه ، ټولې څلور شمعې روښانه کېږي. دپيداېښت ورځې ديوټ مختلف شکلونه او رنګونه لرى او کيداى شى له اوسپنې، لرګى، ټيګې، او نور شيانو نه جوړشوې وى . دپيداېښت ورځې ديوټ له المان څخه د کرسمس ونى په شان ناروې ته راغلې دى.

## دپيدايښت آيت

پداسې حال کې چې دپيدايښت څراغونه روښانه کيږي ، د دپيدايښت آيت لوستل عام دي.  بيلابيل مختلف آيتونه موندل کيږي. لاندې تاسو کولی شئ يو له خورا عام آيت ولولئ. آيت د اينګر هاګېروپ لخوا ليکل شوی. دا د خوښۍ ، اميد ، هيلې او په ځمکه کې د سولې لپاره د شمعې روښانه کولو په اړه دی.

## پيدايښت

د اينګر هاګېروپ لخوا

بيا موږ نن شپه يو شمع لګوو، موږ دا د خوشحالۍ لپاره لګوو

دا د خپل ځان او زموږ لپاره ځليږي چې حاضر يو.

بيا موږ نن شپه يو شمع لګوو، موږ دا د خوشحالۍ لپاره لګوو

*بيا موږ نن شپه دوې شمعې لګوو، دوې شمعې د اميد او خوښۍ لپاره .*

*دوی* د خپل ځان  او زموږ لپاره ځليږي چې حاضر يو.

*بيا موږ نن شپه دوې شمعې لګوو،دوې شمعې د اميد اود خوښۍ. لپاره*

*بيا موږ نن شپه درې شمعې لګوو، درې شمعې  د ارماند، اميد او خوښۍ لپاره .*

*دوی* د خپل ځان  او زموږ لپاره ځليږي چې حاضر يو.

*بياموږ نن شپه درې شمعې لګوو،درې شمعې د ارماند، اميد اود خوښۍ لپاره.*

*بيا موږ نن شپه څلور شمعې لګوو، بريږدی چې وځليږی*

*د ارماند، اميد ،خوښۍ او سولې لپاره .*

*هود سولې لپاره په دې کوچنۍ ځمکه کې چې خلک ژوند کوي*



*Adventslys. Bildet er tatt av Myriam Zilles på Pixabay*